شيطان هغو خوړو ته لار مومي چې د الله نوم پرې وانه خيستل شي

له حذيفة رضى الله عنه څخه روايت دى چې ويلي يې دي: مور به كله چې د نبي صلى الله عليه وسلم سره په خوړو كې ګډون كاوه، نو تر هغه به مو خوړو ته لاس نه نږدې كاوه تر څو به چې رسول الله ﷺ پيل نه و كړى، نو يوه ورځ مو ورسره په خوراک كې ګډون كاوه، نو ګورو چې يوه وينځه داسې راغله لكه څوک يې چې ټېل وهي، غوښتل يې چې خوړو ته لاس اوږد كړي، نو رسول الله ﷺ يې لاس ونيو، بيا يو بانډه چې راغى هغه هم داسې و لكه څوک يې چې ټېل وهي، نو د هغه لاس يې هم ونيو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: «شيطان هغو خوړو ته لار مومي چې د الله نوم پرې وانه خيستل شي، هغه دا وينځه راوستله چې له امله يې خوړو ته لاسرسى ولري، نو ما يې لاس ونيو؛ بيا يې دا بانډه چې راوست تر څو خوړو ته لاسرسى ومومي، نو ما يې لاس ونيو، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس كې دى، د شيطان لاس زما په لاس كې د دوى له لاسونو سره يو ځاى دى».

[صحيح دى] [مسلم روايت كړى دى]

حذيفة بن اليمان رضى الله عنه يادونه كوي چې كله به دوى د نبي صلى الله عليه وسلم سره په خوړو كې ګډون كاوه نو خپل لاسونه به يې تر هغه خوړو ته نه اوږدول چې رسول الله ﷺ به پيل نه و كړى، نو يو ځل ورسره ناست وو، يوه وينځه په ډېرې بېړې داسې راغله لكه څوک يې چې ټېل وهي، غوښتل يې لاس په خوړو كې ښكته كړي، نو رسول الله ﷺ يې لاس ونيو، بيا يو بانډه چې هم همداسې راغى، نو مخكې له دې چې خوړو ته لاس تېر كړي، د هغه لاس يې هم ونيو، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: شيطان كولى شي هغه مهال خوړو ته لاسرسى ولري چې انسان د الله د نوم له يادولو پرته پيل وكړي، هغه دا وينځه راولېږله چې له هغې سره خوړل ځان ته روا كړي، نو ما يې لاس ونيو؛ بيا يې دا بدوي (بانډه چې) راولېږه چې خوړو ته لار ومومي، نو ما يې لاس ونيو، قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس كې دى، د شيطان لاس زما په لاس كې د هغې له لاس سره يو ځاى و، بيا يې د الله نوم واخيست او خوراک يې وكړ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3507

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee